http://www.arianafghanistan.com

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۰/۰۹/۲۰

# زړه او خوله

زړه کی چی دعاوې وی، نو خولې ته ښیرا نه راځي
زړه ته که ښــــیرا راشي، بیا خـولې ته دُعا نه راځي
زړه لکه د مــور غوندی، خپه وی خو ناراض نه وي
سـترګـو تــه د مــور، له اولاد پـرته دنیـا نه راځـي
زړه کـی بی له مینې، یـار ته نور څه ځایدای نه شـي
دا مینه زخمي که شـــوه، شـــفاء ورته بیـــا نه راځي
میـنه څـه متـاع، د خـر څـیدو د اخســـتو نـــه ده
بیـــرته په ســــتنـه، له جســـم بیـلـه اروا نه راځي
تـه لـکه سپوږمی، چی می تیـاره ژوند تــه رڼا راغلې
بیـــا که رانــه بیـلـه شـوی، تیـارو ته رڼـا نه راځـي
تــاتـه به مـعـلـوم نــه وی، د میــــنې کرامت پـوه یم
بـــی ښـــکلی «یوسـف» نه، په ځوانی زلیخا نه راځي
پـام چی سا ایســـتته، بی هـــوا نه شـونې نه ښکاري
بنـــدې کـــوټنـی تـــه، له هـــوا نـــه هـــوا نـــه راځـــي
چـــیرته خـو یوځـل کړه، ســر ښکاره د کلیوال زړه ته
ولـی داســی شین دی، چي په خوله یی خندا نه راځي؟

ایجکس – تورنتو – کاناډا



د دغه لیکوال د نورو لیکنو لپاره ، دلته کلیک وکړئ